# د اجمل خټک ژوند شخصيت او ادبي مقام

# The Life, personality and Literary place of Ajmal Khattak

Dr Sher Zaman Seemab*

**Abstract**

Ajmal Khattak is a well known political and literary figure of Khyber Pakhtoon Khawa. He is famous for producing modern Pashto poetry and is rightly called one of the pioneers of modern Pashto poem. He is called *Ba Ba-e- Nazam*. One of the reasons of his popularity is that he also played a positive role in the field of Journalism. Ajmal Khattak always used to defend the rights of people in his poetry. His political life is a role model for the politically depressed people. His writing is the mirror of his personal life. He has so many good personal qualities to follow. A wide circle of people are impressed not only by his poetry, political struggles but also by his personal life and the same will be a source of inspiration for the coming generation.

اکوړے چې د نوښار د ضلعې لوئے تاريخي کلے دے۔ د لنډي ( دريائے کابل ) پــه غاړه اباد د زمانو راسې داکلے د لوئے جرنېلي سړک پـه غاړه اباد دے۔ هر کله چې په دې کلي د هندوستان ، کابل او وسطي ايشيا لويه لار تېره شوې ده۔ په دې اړه پرې لوئے لوئے خلق تلي راغلي دي۔ بادشاهان ، جرنېلان ، سېل ګري او نور هم اهم او تاريخي شخصيات چې د اباسين په ګودر راپورې وتي نو په دې کلي باندې ئې قدمونه ايښي دي۔ خو دې ځائے تـه لوئے او نـاز د ستر خوشحال په سر حاصل دي ځوک چې د هندوستان د تاريخ يو لوئے مېړني

* Junior Research Officer Pashto Academy University of Peshawar

او جنګيالي نه علاوه د يو نړيوال مفکر په حېث دنيا پېژني او د چا افکار چې د پاتې نړۍ دپاره د پوهې زده کړې او لارښودنې بل مشالونه دي.

ستر خوشحال بابا هم ددغه سيند په غاړه خپل فکرونه هغه وخت ځلولي دي ، رڼا کړي دي او د پښتو ژبې او ادب په لار کښې ئې ايښي دي چې کوم وخت په هندوستان کښې د مغلو حکمراني وه او د مغلو دا حکمراني د پښتنو د يوې اوږدې حکمرانۍ په اختتام په وجود کښې راغلې وه ولې په دې هم د مغلي رقابت اخ نۀ ؤ سوړ شوے او په پښتنو ئې خپل وطن هم سور تنور کړے ؤ هر طرف ته ئې پرې چپاوونه او يرغلونه کول. خوشحال بابا هم په دغه وخت او حالاتو کښې رالوئے شوے ؤ د مغل دربارونه ئې ليدلي وو او چې د رنتهمبور تيارو ئې فکر رڼا کړو نو د قامي يو والي ببرغ ئې پورته کړو. د سترخوشحال دغه فکر چې په پښتو ادب کښې يو ولوله انګېز انقلابي رجحان پېدا کړو او د ملي فکر شعوري نوغے ئې په کښې زرغون کړو. نو دغه د پښتو د ناوې د مخ نه د نقاب پورته کولو شعوري هڅه وه.

دغه تسلسل چې د اوولسمې صدۍ نه را روان ؤ په دې کښې عبدالقادر خان ، اشرف خان هجري ، صدر خان خټک ، سکندر خان خټک ، کامګار خان خټک ، کاظم خان شېدا وغېره د قلم هغه پيياوړي وزېرېدل چې پښتو ادبي تاريخ کښې ئې د خپلو افکارو او خدماتو له کبله نامې محفوظ پاتې شوې.

په شلمه صدۍ کښې چې ټول هندوستان د مغلي تسلط په ځائے د پېرنګي په ولقه کښې ورغلے ؤ د لنډي په غاړه د خوشحال په خاوره د تاريخ بل مېړنے وزېرېدو چې نوم ئې اجمل خټک ؤ. د حکمت خان کره په پنځلسم ستمبر کال ۱۹۲۵ء[۱] زېږېدلے دا ماشوم چې وروستو د هېواد د سياسي ، صحافتي او ادبي مېدان لوئے اتل ثابت شو. د اتم جماعت پاس کولو نه پس په سکول کښې د استاد په منصب وټاکلے شو. اجمل صېب پېدائشي طور علمي ادبي رجحان لرلو ځکه ئې بقول همېش خليل بغېر د کوم استاد د ښودنې د خپلې مطالعې

په برکت د پښتو آنرز ، منشي فاضل ، اديب فاضل او لسم جماعت امتحانونه پاس کړل[۲] .ولې په دې دوران کښې چې اجمل صيب لا طالب علم ؤ د ''هندوستان پرېږدئ'' Quit India '' په تحريک کښې د طالب علم په توګه پوره پوره شريک شو .[۳] او د خپلو ذهني رجحاناتو او مېلاناتو جوهر ئې څرګند کړو .په دې وجه د پېرنګي حکومت خلاف د نظرياتو لرلو په اړه د هغوي د ظلم او ستم ښکار شو .کله به ئې يو ځائې ته بدلي کېدله او کله بل ځائے ته چې ورسره په کښې د نوکرۍ نه د برطرفۍ احکامات هم شامل وو[۴] .

د پېرنګي حکومت خلاف اجمل خټک په مظاهرو کښې د ازادۍ د اخستو تقريرونه کول قام ئې بېداروؤ او په کښې به ئې نظمونه هم وئيل .خپله ئې يوه نمونه داسې ليکلې ده .

د ظلــم حکومــــت د پېرنګيــــانو دې بربـــاد وي
انقـلاب دې زنـدباد وي[۵]

د پروفېسـر افضـل رضـا مطـابق پـه ۱۴ اګســت ۱۹۴۷ء د رېډيو پاکستان نه د ازادۍ وړمبے پښتو نظم اجمل خټک نشر کړے ؤ[۶] او بيا په کال ۱۹۴۸ء کښې په رېډيو پاکستان پېښور کښې د سکرپټ ليکونکي په حېث ملازم شو[۷] .

په کال ۱۹۵۳ء کښې د همېش خليل مطابق اجمل خټک د پښتون ليګ جوړولو په الزام کښې ګرفتار شو او بيا رها شوے[۸] .

**صحافتي خدمات :-**

اجمل خټک د لوئے صحافي په حېث هم خپله فريضه سرته رسولې ده په مختلفو اخبارونو رسالو کښې ئې د خپل قلم په ذريعه خپل افکار وړاندې کړي دي او په صحافت کښې ئې د خپل اولس خدمت کړے دے په مختلفو موضوعاتو ئې ليکونه کړي دي .ادبي سياسي او سماجي او اصلاحي کالمونه د دوي په دغه خدمت کښې شامل دي .په دې اخبارونو او رسالو کښې ماه

نامه عدل پشاور ، روزنامه انجام پشاور ، روزنامه بانگ حرم پشاور او روزنامه شهباز پشاور شامل دي ـ عبدالله جان عابد د اجمل خټک د صحافتي خدماتو په لړ کښې ليکي چې :-

"ان رسالوں اور اخبارات کے ساتھ انسلاک کے زمانے نے اجمل خٹک کو اپنی صحافیانہ صلاحیتوں سے بھرپور کام لینے کا موقع فراہم کیا۔ ان کی مختلف ادبی، سماجی، تہذیبی، سیاسی، قومی اور بین الاقوامی موضوعات پر مبنی تحریریں، ان جرائد اور اخبارات کے ذریعے سامنے آتی ہیں۔ اور عوام تک پہنچتی ہیں۔ ان تحریروں میں ادب اور سیاست کے متعلق ان کے مخصوص نقطہ ہائے نظر کے علاوہ علمی گہرائی بھی ہوا کرتی تھی۔ اس لیے ان کے کالم اور دیگر ادبی اور صحافتی تحریریں پشتو صحافت اور ادب میں بلند پایہ مقام کی حامل ہیں۔ [۹]"

په ورځپاڼه بانګ حرم کښې چې به اجمل خټک کوم کالم ليکو د هغې نوم "کچکول" ؤ چې په قلمي نوم "ملنګ" په خپرېدو ـ د کچکول کالم په حقله همېش خليل ليکلي دي چې :

"دا کالم د استبدادي نظام ، معاشرتي لوړو ژورو ، بې انصافو او سياسي بدترۍ خلاف د بغاوت يوه داسې ناره وه چې حرارت ئې محلونو ته تاؤ او جونګړو ته رڼا ورکوله [۱۰]"

د اجمل خټک صحافتي خدمات په ملکي کچ ستائيلي شوي دي او د ملک لويو صحافيانو د ے د يو بې باک اهل قلم په حېث منلے د ے ـ ددۀ قلمي کاوشونه او کوششونه ئې ياد کړي دي او ددۀ د خپل ملک ، قام او اولس دپاره د لرونکي درد اعتراف ئې کړے د ے ـ

اجمل خټک د اردو پښتو د مختلفو اخبارونو او مجلو مدير [۱۱] پاتې شوے د ے چې خپل خدمات ئې په ډېره مؤثره طريقه سرته رسولي دي ـ رحيم الله يوسفزے ليکي چې :

'' انہوں نے ایک عامل صحافی کی حیثیت سے صحافت میں بھی نام پیدا کیا اور روزنامہ شہباز اور بانگ حرم کے لئے سیاسی اور سماجی موضوعات پر کالم لکھتے رہے۔ [۱۲]''

**اولسي او سیاسي ژوند :-**

په عام اولسي ژوند کښې اجمل خټک ډېر ملنسار انسان ؤ ـ د لويو عهدو او ډېر لوئے قد او شخصيت لرلو باوجود به د عامو خلقو کشرانو او ځوانانو په محفلونو کښې خنده رويه خنده رويه ښکارېدو ـ د خپل سياسي فکر او نظريې له مخه ئې د ټول انسانيت سره بې انتها مينه لرله او دغه وجه وه چې د اختلاف باوجود د هر مکتب فکر خاوندان ئې معترف ؤ ـ د هغهٔ اصول پسندي ، جمهوريت پسندي او د خپل قام او وطن سره مينه په ټولو خلقو کښې يو شان مقبول وه ـ د خپلو نظرياتو او افکارو دپاره هغه د قېدونو او جېلونو سختئ ، تکليفونه او اذيتونه برداشت کړل ولې دخپل اولس د ودې او ترقئ دپاره او د خپل ملک او وطن دپاره د خپل شعور بلې ډيوې ترې مړې نهٔ شوې ـ او دغه قربانئ د دوي په اولسي ژوند اثر اندازې وې چې دے ئې د اولس شاعر او داولس لاربنود ګرځولے ؤ او اولس ورسره مينه لرله ـ

امجد اسلام امجد ليکي چې :-

''ان کا کردار ایسا بے داغ اور مثالی تھا جو ہمارے بیشتر سیاستدانوں کے لیے سبق کی حیثیت رکھتا ہے۔ [۱۳]''

وړاندې ليکي چې :

'' شخصی دیانت اور ایمانداری کے حوالے سے وہ ایک ایسے صاحب کردار شخص تھے جو ہمارے معاشرے میں بہت کم دکھائی دیتے ہیں۔ [۱۴]''

د اجمل خټک سياسي افکار ښکاره او څرګند وو د يو قام پرست رهنما په حيث د پاکستان په سياسي مېدان کښې د څرګندې نامې خاوند دے ـ د قامي اسمبلئ او سينټ غړے پاتې شوے دے ـ د عوامي نېشنل پارټئ د مرکزي

صدر په حېث ئې ددغه ګوند رهنمائي کړې ده .تر شپاړسو کالو ئې د جلاوطنۍ ژوند تېر کړے دے .د لويو سياسي غونډو مشري ئې کړې ده د لوئے سياسي مشر باچا خان د فکر ملګرے او سياسي کارکن ؤ .د پخواني صدر مملکت جنرل پروېز مشرف سره د ډېر نزدې تعلق په وجه که د خپل سياسي ګوند نه اوويستلے شو خو خپل اصول ئې پرې نښودل او د وزارت اعظمٰی نه ئې انکار وکړو[۱۵] .ددې مقصد دا دے چې اجمل صېب د قامي اولسي او جمهوري فېصلو کولو علمبردار ؤ .او هغه غوښتله چې قامي ستونزې اوکشالې دې په قامي اولسي توګه په جرګو مرکو له مېنځه لرې کړې شي او دا هغه لوئے انساني فکر ؤ چې د هغه په خيال :

که په يو ګوټ کښې يوه څانګه تړله ګل شي نو څهٔ
سپرلے هغه چې هم په ګل او هم په خار راشي
د يو غوټۍ نيمې خندا ته څوک سپرلے نهٔ وائي
سپرلے هغه چې ناقلارو ته قرار راشي[۱۶]

د اجمل صېب په شاعرۍ کښې د هغوي اخلاقيات ، سياسيات ، ادبيات ، تصورات او تخيلات ټول راټول دي .هر څو که پرېشان خټک صېب د هغوي په سياسي عمليانو خوښ نهٔ ؤ بلکې معترض ؤ پرې چې اجمل صېب قلم کار وو د سياست په لارو قتل شو[۱۷] .زما خيال دا دے چې د سياسي لارې دپاره د ډېر اختلاف باوجود د موصوف غوندې بې داغه خلق پکار دے او بيا د اجمل صېب دپاره دغه لار د قتل نهٔ وه اختلاف ورسره کېدے شو خو دغه لار د اجمل صېب شعر له هغه سماجي رنګ ورکړو چې افاقيت ته ئې ورسوؤ په دې چې اجمل صېب بنيادي طور ترقي پسند شاعر ؤ او د هغوي په حقله دا وېناګانې هم شته چې .بقول جميل مرغز :

*'' میری رگوں میں خوشحال خان خٹک کا خون دوڑ رہا ہے ۔ میری سیاسی تربیت باچاخان کے ساتھ ہوئی اور میرے ذہن کو کارل مارکس نے جلا بخشی۔[۱۸] ''*

او د اردو لوئے صحافي عبدالقادر حسن په قول داسې چې:

''خوشحال خان خٹک میرے خون میں شامل ہے۔ مارکسزم میرے ذہن کا حصہ ہے۔ اور اسلام میرے دل میں بستا ہے۔ [۱۹]''

ددې دوؤ بیانونو په رڼا کښې چې څۀ توپیر هم لري ولې واضحه نظریه هم لري او هغه د انساني معاشرې او انساني حقوقو د روزنې او پالنې ښکاره اظهار دے او په دې بنیاد داسې شخصیات د سیاسي مېدان نه لرې پاتې کېدل یو لوئے قامي زیان وي. د اجمل صېب ادبي حېثیت مسلم دے او سیاسي شخصیت ئې حقیقت. د هغه په سیاسي شخصیت کښې ادبیت دے او په ادب کښې ئې سیاسي بلوغت.

عبدالله جان عابد لیکي چې:

''ان کی سیاسی جدوجہد کا بنیادی مقصد استحصال سے پاک پرامن انسانی معاشرے کی تشکیل ہے۔ اس لیے ان کی تمام تر سیاسی اور ادبی زندگی استحصالی قوتوں کے خلاف جدوجہد میں ہو کر گزری ہے۔ [۲۰]''

پخوانے صدر مملکت د ایوان بالا چئیرمېن وسیم سجاد لیکي چې:

''ان کا طویل سیاسی سفر اس بات کی غمازی کرتا ہے کہ وہ اس ملک کے محروم طبقات کے لئے حقیقی درد رکھتے ہیں۔ ایک شاعر اور ادیب ہونے کے باوجود ان کی سیاست صرف نظریاتی نہیں رہی۔ بلکہ عملی جدوجہد سے عبارت ہے۔ [۲۱]''

دلته د همېش خلیل ددې خبرې سره هم د اختلاف گنجائش شته چې وائي چې اجمل خټک هم لکه د ټالسټائي او ملټن د ادبي دنیا نه سیاسي مېدان ته لاړلو ولې نۀ خو ټالسټائي او نۀ ملټن او نۀ اجمل خټک په سیاست کښې کومه کارنامه وکړه او یا ئې کوم داسې کردار ولوبولو چې په سیاسي تاریخ نامدار پاتې شي. بلکې درېواړه د خپلو لیکونو په برکت ژوندي دي [۲۲]. خو زما خیال دے چې اجمل صېب د خپل وطن په سیاست کښې منفرد کردار ولوبولو هغه د سیاسي خلقو دپاره مشعل راه دے. د اصولو د سیاست لار ئې ونبودله. ذهنونه

ئې منور کړل ، فکرونه رڼا کړل ، د يو فکر مکتب ئې وزېږوو ـ د قامي مينې سياسي شعور ئې عام کړو او کۀ د غېرت په چغه اجمل ژوندے وي نو دا د هغۀ دسياسي فکر لويه ګټه ده چې اولس ئې متاثره کړو ـ ادبي تحرير ئې سياسي تقرير کړو او سياسي تقرير ئې ادبي تحرير او ادب د ژوند دپاره نظريه ئې مفکوره نه بلکې عملي طور ثابته کړه ـ

خوشحال بابا چې د مغلي حکومت خلاف د پښتون وحدت کوم سياسي فکر وړاندې کړے ؤ چې :

اتفـــاق پـــه پښـــتانۀ کښـــې پېـــدا نـــۀ شـــو
ګنـــي مـــا بـــه د مغـــل ګرېـــوان پـــاره کـــۀ [۲۳]

په شلمه صدۍ کښې د خدائي خدمتګار تحريک د قافلې د شاعرانو په تسلسل کښې تکميل ته ورسېدو چې اجمل خټک اووئيل چې :

يـــــه پښـــــتنو يـــــه لېونـــــو پښـــــتنو
يـــه تـــس نـــس شـــوي پرګنـــو پښـــتنو
راځـــئ چـــې کـــور کښـــې مرکـــه شـــو ســـره
د ســـيالۍ وخـــت دے چـــې جرګـــه شـــو ســـره [۲۴]

دلته ددې خبرو مقصد او غرض دادے چې اجمل صاحب سياست کړے دے او د سياست په حواله ئې د ډېرو سختو او تکاليفو نه علاوه ډېر مصروف ژوند تېر کړے دے چې دغه وخت ئې شايد دادب دپاره نور هم ډېر څۀ ورکولے شول ـ ولې د هغوي دغه سياسي مبارزه د يو امن پسند ، اصول پرست او د اتفاق او اتحاد او رورولۍ د سياست دپاره هم ډېره اهم وه او د هغوي دغه سياسي فکر د پښتو ادب دپاره هم ډېر ګټور شو په دې چې په پښتو ادبياتو کښې د عملي سياست فکري رجحانات او تصورات هم مخې ته راغلل کوم چې د اجمل خټک د تجربو او مشاهدو نچوړ ؤ ـ

**ادبي خدمات :-**

د ادبي خدماتو په لړ کښې د اجمل صاحب قد د سياسي قد نه ډېر لوړ دے ـ په دې چې د ادب مينه والو که ئې د سياسي فکر سره څۀ هم اختلاف لرو خو په ادبي کار ئې ورله وياړ کوؤ او قدر ئې ورله کوؤ چې ددې نه دا ثابتېږي چې د اجمل صېب د ادبي قد نه سياسي قد پناه شوے ؤ او د هغوي دغه ادبي افکار وو چې يوه زمانه ئې متاثره کړه يو شمېر کتابونه ئې مخې ته راغله ، وقدرولې شو ، ولوستلې شو او استفاده ترې وکړې شوه ـ د دوي د ډېرو نورو کتابونو نه سربېره د غېرت چغه داسې تخليقي اثر دے چې سياسي او ادبي حلقې ئې احترام کوي ـ که په ادبي دنيا کښې دغه کتاب د خپل اسلوب او هُنر نوې لارې پرانستې نو په سياسي دنيا کښې ئې د خپل سياسي شعور بېرغ ودروؤ ـ

سليم راز ليکي چې :-

> '' اجمل خٹک کا پہلا شعری مجموعہ " د غیرت چغہ " نے جتنی شہرت و مقبولیت حاصل کی ہے ـ آج تک کسی دوسرے شاعر کے مجموعہ کلام کو حاصل نہیں ہوئی۔ جس نے سیاسی لحاظ سے بھی نوجوانوں میں احساس ، شعور اور بیداری کی روح پھونکی ـ ڈیورنڈ لائن کے دونوں جانب پختون انقلابی نوجوانوں نے اسے انقلاب کے بائبل کے طور پر اپنا کر سیاسی جدوجہد میں اس سے روشنی اور رہنمائی حاصل کی۔ [۲۵]''

روښان يوسفزے هم ددې شهرۀ افاق کتاب '' د غېرت چغه '' په لړ کښې دا قسم خيالات لري ـ

> ''ان کی شاعری کا پہلا مجموعہ " د غیرت چغہ " نے پختونوں کی ایک پوری نسل کو متاثر کیا جسکی بازگشت آج بھی پشتو کی جدید شاعری میں سنی اور محسوس کی جاتی ہے ـ ان کی اس کتاب کو جدید پشتو ادب اور پختون نیشنل ازم میں لوگ کارل مارکس کی کتاب " داس کیپٹل " سے مماثلت دیتے ہیں۔ [۲۶]''

د اجمل خټک شاعرۍ د خپل عصر پوره پوره ترجماني وکړه . او د خپل دور طبقاتي نظام ئې داسې وغندو چې د جېل تورو تمبو ته ئې ورسو او دا د هغوي د شعر عظمت وو چې د خپل اولس د صحيح او زړۀ پورې ترجمانۍ په تېس کښې د استبداد د ظلم ښکار شو . ددې نه دا نتيجه هم ډېره په اسانه اخستے شي چې د دوي د هُنر فکري بنيادونه څومره مضبوط او په نظريه اډانه وو او چې په يو وخت ئې څومره خپل اولس بېدار کړو نو هم په دغه وخت ئې د ايوان اقتدار واکمن هم ولړزول .

پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين ليکي چې :

" د قامي ازادۍ او قام پرستۍ داسې تصور د دوي نه وړاندې په داسې انداز کښې چا نۀ ؤ بيان کړے . د خپلې خاورې سره مينه ددۀ وختي جذباتيت نۀ وو بلکې ددې په شا يو سنجيده فکر او سياسي پوهه وه چې بنياد ئې لکه د ترقي پسندو که په طبقاتي شعور څۀ موده نۀ هم ؤ ولې روستو د ازادۍ شديد احساس او د حاکمانو ، سرمايه دارو ، جاګيردارو د دښمنۍ جذبه ترې څرګنده ښکارېده .[۲۷] "

د اجمل صېب شعر په مجموعي ډول په فني تول هم پوره دے . د ژوند د ترخو حقيقتونو د بيان او استحصالي نظام په ضد شعر په فني توګه دومره چابک ، ساده ، روان او د شعري او هنري ضروورياتو سره څنګ په څنګ بوتلل يقيناً د هنر کمال غواړي او داکمال د اجمل خټک په هنر کښې لکه د نمر څرګند دے .

روښان يوسفزے د اجمل صېب د شعر د هُنر په لړ کښې ليکي چې :-

" انہوں نے پشتو کی قدیم شعری اصطلاحات ' علامات ' استعاروں اور تلمیحات کو نئی معنویت بخشی بنیادی طور پر وہ نظم کے شاعر تھے ۔[۲۸] "

د لوړ مقصد او رسا نظر په دې شاعرۍ کښې فن هم په خپل عروج ښکاري د الفاظو تړون او پېوستون ، بې ساختګي او تسلسل چې يو طرف ترې د ظالم

اقتدار او بادار دپاره د اور بڅري دانګي نو بل طرف ته لکه د اوبو روان روان شعري هُنر څرګندوي.

پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین لیکي چې:

" د اجمل خټک د نظم په خصوصیاتو کښې د ښکلو الفاظو انتخاب، رواني ، سلاست او ورسره د معنې د ابلاغ زبردست صلاحیت موجود دے.[۲۹] "

د اجمل خټک د شاعرۍ مقام د خپل وخت د ادبیاتو، استاذانو او پوهانو ستائیلے او یاد کړے دے اوددې نه دا ثابتېږي چې اجمل خټک خپل شعر د عروج هغه نقطې ته رسولے دے چې کوم ته په نړیوال ادب کښې څو شاعران رسېدلي دي او مقام ئې موندلے دے.

پوهاند صدیق الله رېښتین لیکي چې :-

" د اجمل خټک په شاعرۍ کښې جمال او جلال په پوره کمال غورځنګونه وهي. دې خوږ ژبي شاعر ته خدائے یو داسې قدرت ورکړے دے چې لکه د څپاند سیند او لکه د مستو غنچو تالۍ وهي او دا ځکه چې دې د خوشحال د نغري یوه ځلانده سپرغۍ ده د اشرف خان د باغچې یو خوږ بویه نرګس دے ، د کاظم خان شېدا د خوږمن زړۀ یوه سوزندده نغمه ده.[۳۰] "

د نثر په مېدان کښې هم اجمل خټک قابل قدر کار کړے دے. کالمونه ، افسانې ، مضامین ، مقالې او نورې نثري فنپارې ئې د قلمه ویستې دي کومې چې د علم و ادب د مئینانو او لوستونکو دپاره د ډېرې استفادې وړ دي په دې چې په دغه لیکونکو کښې سیاسي ، سماجي او ادبي رنګونه موجود دي او لوستونکي ترې پوره پوره علمي بصیرت حاصلولے شي.

په دې لړ کښې د نورو ډېرو نثري لیکونو نه علاوه د دوي لکه " د غېرت چغه " منظوم کتاب غوندې یو نثري کتاب " دا زۀ پاګل ووم ؟ " هم دغه وخت شهرت موندلے دے. کوم چې د قېد و بند په ورځو کښې د رپورتاژ

په شکل کښې لیکلے شوے دے او دغه کتاب هم داسې لوستے شوے دے لکه ''د غېرت چغه'' او زما خیال دے چې دا به په پښتو کښې وړمبے د نثر کتاب وي چې دومره ډېر لوستے شوے او شهرت ورته حاصل شوے دے.

''دا زۀ پاګل ووم ؟'' خوږ او روان نثر دے .د روزمرې او محاورې بهترینه ادائیګي او د قېد و بند د سختو وختونو او د ناروا ظلمونو بیان په ادبي پېرایه کښې چې د هر قسم جذباتیت نه پاک دے ددې کتاب د نثر لوړ مقام څرګندوي او دغه د اجمل خټک د نثر نګارۍ په حواله دوي د یو لوئے نثرنګار په حېث متعارف کوي. ښاغلے حبیب الله رفیع وائي چې :

> ''په پښتو کښې تر ټولو کامیاب او په زړۀ پورې رپورتاژ د اجمل خټک (دا زۀ پاګل ووم ؟) دے چې د خپل بند ډېرې ترخې خاطرې ئې په ډېره خوږه ژبه په کښې خوندي کړې او د ترخو پېښو یو ډېر خوږ انځور ئې ایستلے دے .خپل درانۀ غمونه ئې د خندا په چوکاټ کښې اچولي او په حوالات کښې پرې تېر شوي حالات ئې په صراحت او رقت د کاغذ مخ ته سپارلي دي.[۳۱]''

غرض دا چې اجمل صېب د یو شاعر ، ادیب ، صحافي او سیاستدان په حېث مقبول دے او دغه ټول حېثیتونه چې راغونډ شي نو دانشور او مفکر اجمل خټک مخې ته راځي .ځوک چې د خپل قام ، وطن او د نړۍ د مظلومانو ، مزدورانو ، دهقانانو او بې وزله ، چقېدلو طبقو دپاره لویه اثاثه او د رڼا هغه مناره ده چې تر ابده به ترې دا طبقې د خپلې لارې دپاره رڼاګانې اخلي او د مخکښې تلو دپاره به تګ کوي.

# حوالې


۱ همېش خلیل ، پښتانۀ لیکوال ، وړمبے جدل ، یونیورستې پبلشرز پېښور ، ۲۰۱۰ء ، ص ۴۳۴

۲ همدغه حواله او مخ

۳ عبدالله جان عابد ، اجمل خټک شخصیت اور فن و اکادمي ادبیات پاکستان ، ۲۰۰۷ءص ۱۲

۴ همدغه حواله او مخ

۵ اجمل خټک ، قیصه زما د ادبي ژوند ، معراج دین پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۵ء ، ص ۷۹

۶ پروفېسر محمد افضل رضا ، اجمل خټک شخصیت اور فن ، مرکزي خوشحال ادبي او ثقافتي جرګه ، ۱۹۹۷ء ، ص ۱۲

۷ پښتانۀ لیکوال ، ص ۴۳۴

۸ همدغه حواله ، ص ۴۳۵

۹ اجمل خټک شخصیت اور فن ، ص ۳۲

۱۰ پښتانۀ لیکوال ، وړومبے جلد ، ص ۴۳۲

۱۱ اجمل خٹک کی رحلت، اداریہ، روزنامہ آج پشاور، ۹ فروری ۲۰۱۰ء۔

۱۲ رحیم اللہ یوسفزئی، سچا شاعر اور سیاستدان، رزنامہ آج پشاور، ۱۵ فروری ۲۰۱۰ء۔

۱۳ امجد اسلام امجد، اجمل خٹک، روزنامہ ایکسپریس پشاور، ۱۱ فروری ۲۰۱۰ء۔

۱۴ ہمدغه حواله

۱۵ حامد میر، اجمل خٹک کا انکار، روزنامہ مشرق پشاور، ۹ فروری ۲۰۱۰ء۔

۱۶ اجمل خٹک، د غیرت چغه، یونیورسٹی بک ایجنسی پشاور، ۲۰۰۷ء، ص ۳۰

۱۷ پریشان خٹک، مشمولہ اجمل خٹک شخصیت اور فن، ص ۷۲

۱۸ جمیل مرغز، انقلاب کا عاشق، روزنامہ آج پشاور، ۱۰ فروری ۲۰۱۰ء

۱۹ عبدالقادر حسن، اجمل خٹک کی یاد، روزنامہ ایکسپریس پشاور، ۹ فروری ۲۰۱۰ء

۲۰ اجمل خٹک شخصیت اور فن ، ص ۴۵

۲۱ اجمل خٹک شخصیت اور فن، ص
۲۲ پښتانۀ لیکوال ، وړومبے جلد ، ص ۴۴۰
۲۳ کلیات خوشحال ، ص
۲۴ اجمل خټک ، د غېرت چغه ، ص ۱۰۵
۲۵ عبداللہ جان، عابد، اجمل خٹک شخصیت اور فن، ص ۱۵۰
۲۶ روخان یوسفزے ، جاوید خان ، درویش سب کو مغموم کرگیا ، روزنامہ ایکسپریس پشاور ، ۹ فروری ۲۰۱۰ء
۲۷ پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین ، جدید نظم په پښتو کښې ، پښتو اکېډیمي ، ۲۰۱۲ء ، ص ۲۵۰
۲۸ روخان یوسفزے ، اجمل خٹک جنہوں نے پشتو ادب کو نیا رنگ اور آہنگ دیا ، روزنامہ ایکسپریس پشاور، ۱۱ فروری ۲۰۱۰ء
۲۹ جدید نظم په پښتو کښې ، ص ۲۵۰
۳۰ صدیق الله ریښتین ، اجمل خټک ، مشموله د اجمل خټک یاد ، د لوړو زدکړو وزارت ، ۱۳۸۲ل . ص ۲۲
۳۱ حبیب الله رفیع ، دا زۀ پاګل ووم ؟ د اجمل خټک اد بي راپورتاژ ، مشموله د اجمل خټک یاد ، ص ۵۴